## مطبوعاتي اعلامیه

# د باجوه ـ عمران رژیم د بین الافغاني خبرو اترو لپاره د ګومارل شوي اسانچاري په توګه عمل کوي، څو د ټرمپ لپاره ټاکنې وګټي

د دې لپاره چې ټرمپ ټاکنې وګټي، لومړی اماراتو په بې شرمۍ سره یهودي دولت ومانه او اوس د باجوه ـ عمران رژیم ډاډ ورکوي، چې د افغانستان مقاومت به د امریکا له ګوډاګي حکومت سره په واک کې شریکوي. د پاکستان رژیم د طالبانو د مشرتابه د بېلا بېلو غړو پر وړاندې، د تازه مالي بندیزونو په صادرولو سره، د موږک او پیشو لوبه تر سره کوي. په همدې وخت کې بیا د طالبانو مهم مشر ملا عبدالغني برادر اسلام اباد ته رابولي، بیا د امریکا له لوري د تمویل شوې پروسې له څو میاشتني ځنډ وروسته عمران خان د مصالحې عالي شورا له مشر عبدالله عبدالله څخه د خبرو اترو بیا پیل غواړي. په دې توګه د باجوه ـ عمران رژیم د بین الافغاني خبرو اترو لپاره هلې ځلې کوي، تر څو د تېرو څو لسیزو جګړو په ترڅ کې د شهیدانو پر وینو معامله وکړي او په نومبر میاشت کې به د دوی تر سترګو لاندې د افغاني سولې په ټیکاو سره د ټرمپ لپاره د ټاکنو ګټل اسانه کړي.

په حقیقت کې، له څلورو لسیزو راهیسې زړورو افغان مجاهدینو خپل ژوند او شتمنۍ د دې لپاره قرباني نه کړې، چې خپل لوړ مرام چې اسلامي دولت و، له امریکایي ګوډاګیانو سره د قدرت په شریکولو، معامله کړي. د اسلام په اصل کې د خالصو اسلامي احکامو پر ځای، د لیبرال ـ سیکولر قانون د حاکمیت منل، د پانګوال او د سود پر اساس د اقتصادي نظام د منلو مانا لري، چې د اسعارو معیار یې ډالر دی. سیکولر محاکمو د یو څو اسلامي مجازاتو په نښه کولو سره د بشر په لاسونو جوړ شوی اصل او حاکم نظام پټ کړی، تر څو د افغانستان مسلمانان د اسلامي شریعت له غوښتلو څخه منع کړي او د غرب تر واک لاندې نړیوال نظم ته تسلیم شي. د همدې لپاره د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر شاه محمود قریشي رښتینیي افغان مقاومت ته، چې د امریکا پلان په ښکاره توګه ردوي، د (ورانکار) نوم ورکړی دی.

**اې د پاکستان د وسله وال پوځ او استخباراتو مسلمانانو!** د کوم لیدلوري له امله په سیمه کې د امریکا پلان پلی کوئ او د یرغلګرو د ساتونکو په توګه کار کوئ؟ د کوم لیدلوري له امله مو د مشرف په دوره کې، د اډو او استخباراتو په غځولو سره، د امریکا قوماندې ته تسلیم شوئ او په دې کار سره مو هغوی ته دا وړتیا ورکړه چې افغانستان اشغال کړي؟ دا کوم لیدلوری دی چې اوس د افغانستان پر مسلمانانو فشار راوړئ، تر څو د جګړې په ډګر کې د امریکایي عسکرو پر وړاندې خپل بې‌ساري پرمختګ ته د پای ټکی کېږدي. تاسو دوی دې ته اړ باسئ، تر څو له هغو ښکېلاکګرو سره جوړ جاړی وکړي، چې لاسونه یې اوس هم د مسلمانانو پر وینو سره دي؟

په حقیقت کې د امریکا ظاهري ځواک په پور اخیستل شوی، چې له تاسو پرته بل چا نه دی ورکړی. د غلامۍ کړۍ وشلوئ او د دولت د رامنځ ته کولو لپاره نصرت ورکړئ، تر څو د یرغلگرو ځواکونه په گونډو کړي. هغه ځواک وکاروئ چې تاسو ته د اسلام او مسلمانانو د پیاوړي کولو او د اسلامي خاورو د ساتنې لپاره درسپارل شوی دی، په غیر مشروط ډول د افغانستان د خبرو اترو فاسد استعماري پلان رد کړئ. یوازې د نبوت پر منهج د راشده خلافت په رامنځ ته کولو سره کولای شو د افغانستان د مقاومت ملاتړ وکړو، چې له سیمې څخه د امریکا صلیبي یرغلگر وباسي، افغانستان او د مرکزي اسیا هېوادونه سره یو ځای کړي. دا یوازې دویم راشده خلافت دی چې د مسلمانانو لپاره به پیاوړې کلا وي، چې د دښمن ټولې دروازې به وتړي. اسلام او مسلمانان د پاکستان په وسله والو ځواکونو کې د مخلصو افسرانو د غوره پرېکړې غوښتنه کوي، تر څو په نړیواله کچه د اسلام له بیا راپورته کېدو ملاتړ وکړي. گام پورته کړئ او خپل دین ته نصرت ورکړئ! الله سبحانه وتعالی فرمایي:

**﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ اسْتَجِيبُواْ لِلّهِ وَلِلرَّسُولِ إِذَا دَعَاكُم لِمَا يُحْيِيكُمْ﴾**[انفال: ۲۴]

***ژباړه:*** *اې ایمان راوړونکو! د الله سبحانه و تعالی او د هغه د پیغمبر بلنې ته لبیک ووایاست، چې کله پیغمبر تاسو ته د هغه شي په لوري بلنه درکړي چې تاسو ته ژوند بښونکی دی.*

**د حزب التحریر- ولایه پاکستان مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۴۱ هـ.ق، د محرم ۱۲مه**

**۲۰۲۰م، د اگېسټ ۳۱مه**

**د صدور گڼه: ۰٦/۱۴۴۲**

**فېسبوکي جملې:**

۱- د باجوه - عمران رژیم ډاډ ورکوي، چې د افغانستان مقاومت به د امریکا له گوډاگي حکومت سره په واک کې شریکوي.

۲- د پاکستان رژیم د بین الافغاني خبرو اترو لپاره هلې ځلې کوي، تر څو د څو لسیزو جگړو د شهیدانو پر وینو معامله وکړي او په دې سره په ټاکنو کې، د ټرامپ بریا ته لار هواره کړي.

۳ـ د خالصو اسلامي احکامو پر ځای، د ليبرال ـ سيکولر قانون د حاکميت منل، د پانګوال او د سود پر اساس د اقتصادي نظام د منلو مانا لري.